# ننګرهار



اتم کال دریمه گڼه ۱۳۴۲ کال د جوزا میاشت

# ننگرهار

ادبي، ثقافتي میاشتنۍ مجله

د امتیاز خاوند : د ننگرهار نشراتي موسسه

د موسسې آمر : میر سعید (اریمن)

مسئول مدیر : محمد گلاب (بشار)

پته : د ننگرهار مجله، جلال آباد، افغانستان

پر له پسې گڼه (۷۵)

## په دې گڼه کښې


| مضمون | لیکونکی |
|---|---|
| د ښاغلي دکتور محمد یوسف صدراعظم مطبوعاتي اختصاصي مرکه | ... |
| ارزو (شعر) | بینا |
| ای زما... | محبوب جبارخیل |
| خو ښه یمه (شعر) | شفقت |
| د هیلو مزار (شعر) | زیار |
| دلته (شعر) | ننگیالی |
| میخچك | بینا |
| د زړگي آسل (شعر) | محبوب |
| د کوچیتوب هوس | پیغله خارو |
| علم او ژوند | پیغله «حلیمې» |
| ناکامه مینه | م، قانت |
| د باچاخان . | ولي محمد طوفان |
| د خپلواکۍ... | غمشریك |
| د پښتونستان خبرونه | ... |
| د ننگرهار خبرونه | ... |


## د کږې د حریق غمجنه پېښه

د جوزا د میاشتې په (۱۹) نېټه د خوږیا نیو دلوی حکومت په مرکز کږه کښې داور لگیدلو یوه غمجنه او د تاثر وړ پېښه وشوه چه د هغې په اثر (۱۱۵) کورونه او (۱۴۲) دکانونه وسوزیدل مگر د پاك خدای په لوی فضل او احسان ځانی تلفات ندی شوی، هو! دومره ده چه د ښار د زیاتی برخې د سوزیدلو په سبب خلکو ته مالی تاوانونه رسیدلی دی، او خلك د مالونو په تلفیدلو او بی کوره کیدلو سره د یوه عالم پریشانیو او سرگردانیو سره مخامخ شول، او انساني شفقت او اخلاق مرستې ته ور دوگرځیدل

همدا وجه ده چې د بی ساری غمجنې پېښې په کیدلو سره حکومت او خلکو خپله خوا شینی ښکاره کړه او داور ځپلو کسانو په زخمی زړونو باندې ئې د تسلی ملهمونه کېښود ل، او د همدردۍ او معاونت ژوندۍ عواطف، قوی احساسات او ویښ شعور ئې وښووده .

همدغه راز د افغانی سرې میاشتې ټولنې چه د محتاجینو او مصیبت ځپلو سره د همدردۍ او مرستې په اساس مینځ ته راغلې ددغې پېښې له مصیبت ځپلو سره خپله پوره همدردي وښودله او زیانمنو کسانو سره ئې د نغدو پیسو او کالیو مرستې وکړې .

نوموړې دا هیله لرو چه باید ددغې عام المنفعه او خیریې ټولنې سره مادی او معنوی مرستې وشي څو چه دغه ټولنه خپله اساسي او مطلوبه وظیفه لا ښه انجامه کړی او د ټولنې د بې وزلو او مصیبت ځپلو سره لا زیاتې مرستې وکړی .

«بشار»

# ننګرهار

د تاسیس کال
١٣٣٦

میاشتنۍ مجله

[٧]

شپږم کال – دریمه ګڼه – د جوزا میاشت – ١٣٤٢ لمریز کال

مونږ په دې ګڼه کښې د ننګرهار د مجلې ګرانو
لوستونکو ته د ښاغلي ډاکټر محمد یوسف صدراعظم
مطبوعاتي اختصاصي مرکه چه د نوو خبریالانو سره ئې
[illegible] مسوده کړې ده
وړاندې کوو.

## د ښاغلي ډاکټر محمد یوسف صدراعظم

### مطبوعاتي اختصاصي مرکه

خوښي ده چه د اسوشیټډ پرس یو خبر
رسوونکی د آزادې نماینده کابل ته راغی
او له ښاغلي صدراعظم سره ئې اختصاصي
مرکه وکړه مونږ د دې مرکې ځینې برخې
د مطبوعاتي تاریخ د [illegible]

څه [illegible] د خپلو [illegible] د
د پاره خپروو.
[illegible] د ښاغلي صدراعظم [illegible]
[illegible]
څه دی:



ACKU

ځواب : په تېرو څلورو کلونو کې په افغانستان
کې د پرمختیا لپاره ګټورې هڅې شوې دي
چې د پرمختیا د پنځه کلن پلان لاندې
د مملکت اقتصادي انکشاف دی چې او مې
خصوصیات یې نوم یادشوی دی، دغه پلان
په بریالیتوب سره پای ته ورسېد او د څلورم پنځه
کلن په پیلو پیلو څانګو کې لکه معارف، روغتیا
مواصلات، کانو او صنایعو د ملاحظې وړ پرمختګونه
منځ ته راغلل، بل مهم ټکی د نسوانو د نهضت
او د مملکت په اداري او اجتماعي چارو کې د ښځو
ښځې نمایانې شوې دي .
پوښتنه : اعلیحضرت معظم له د اولسي جرګې
کې چې د حوت په ۱۹ نېټه جوړه شوه د افغانستان
د اقتصادي او اجتماعي اوضاعو د توازن د پاره ځینو
احتیاج په باب خبرې وکړې او اعلیحضرت
د افغانستان پادشاه د حوت د ۱۹ مې په اعلامیه
کې په مملکت کې د اجتماعي اوضاعو د توازن
او د غه د اداري پېښو ته اشاره وفرمایله ـ
آیا د کوم لحاظ نه اوس ممکنه چې وضع په مملکت
کې غیرمتوازنه وي ؟
ځواب : زموږ په ټولنه کې د کار

د مرکز او ولایتونو ترمنځ د امتزاج له کبله
په ښو بیا د اجرائیه او عدلیه قوا د ښې
د فرد په موقعیت او د مملکت په اقتصادي او
انکشاف کې د غه د ګډون له نظره ډېر لوی
بې موازنګي او عدم استقرار لیدل کیږي ،
همدا لامل دی چې په ټولنیزو اجتماعي اصلاحاتو سره
چې تر نظر لاندې دي د ګډون فعالیت د پاره
د خلکو توجه نو را جلب کړو او په دغه
اساس به جامعه کې یو معنوي ارتباط
او تړون منځ ته راولو تر څو خلک حس وکړي
چې په حکومت او دغه په فعالیتونو کې لویه
برخه لري او له دغه امله لازمه ده چې د ځوانانو
زیاتې خیلې ښځې او فعالو خلکو ته کار وا جوي .
پوښتنه : آیا ښاغلي صدراعظم کولی
شي چې د انتخاباتو د قانون او سطحي ټکي
د اوصافو په باب د اعلیحضرت معظم
له د اوو د پیشنهاد له نظره توضیحات
ورکړي ؟
ځواب : اعلیحضرت معظم له د اوو پېښو
پیشنهادونو کې د اجتماعي تحول د اساساتو سره
مناسب تحول ته ... اوس د هر ...

توضیحولو او کتنې لاندې دی، د عصر از دانتخاباتو
د قانون د پلټ کتنې ته وړاندې دی او د داوخت
څخه چې د هغه د نوعیت په باره کښې
څه وویل شي، د هیواد او وسنی اساسی قانون
په اوخوندارې خوشحاله چې د غه قانون ۳۲ کاله
څخه د هغه وخت د عواملو تاثیر لاندې
منبع نه وه غلی دی، خو له دې کبله چې ټولو موازینو
او ایجاباتو او د تحول او د تفکیک په اساس په هغه
باندې نوی نظر لازم ګڼل کیږي. موږ به
په دې نوی نظر کښې د مشابه هیوادو د اساسی
قوانینو څخه محض تقلید و نکړو — بلکه خپل ملی
خصوصیات او عنعنات به په نظر کښې ولرو
په اوسنی اساسی قانون باندې د نوی
نظر کولو د باره به د مسودې په مسحاو کښې
د خارجي ماهرانو مرسته واخستل شي.

د اساسی قانون مسوده به د مرستندویو
نوی کمیسیون ته د غور د پاره وسپارل شي
کمیسیون ... په لویه جرګې ته د تصویب
د پاره وړاندې شي.

پوښتنه: تاسې ګوند تولو د جلا کیدو
... لاندې چې د ... مقننه قوای

تفکیک به په څنګ ... د مقننه
اساسی کړي ده څخه وي؟

ځواب: په دې باره کښې هم کتنې روانې دی
او د صحیح ښیا ... به ... د وخت نه څخه وي.
البته د هغو د پاره د مشروطي شاهي هیوادو په
اساسی اصولو نامو کښې غور شوی دی خو بیا
هم باید وویل شي چې موږ به د هغو څخه محض تقلید
و نکړو او زموږ ملی عنعنات او خصوصیات
به په نظر کښې ونیول شي.

پوښتنه: آیا انتخابات به په څو مرحلو
چټکتیا سره وشي؟

ځواب: هر څومره ژر چې امکان ولري
اوس چې د مراحلو په ځای کولو پیل کړی دی
لومړی ګام البته په اساسی قانون نوی
نظر او د لویې جرګې څخه د هغو تصویب دی.
په دې وخت سره عمله کښې به د انتخاباتو
د قانون څخه پیل د نوی قانون پر اساس وي

پوښتنه: د سیاسی حزبونو د جوړولو
په باب د حکومت نظریه څه ده؟

ځواب: زه عقیده لرم چې پارلماني
او دیموکراسی حکومت له احزابو څخه پرته ممکنت

چارې نشي وړاندې بېولی، په دې باره کښې کتنې روانې دي.

د مملکت اساسي قانون به د غه وجود څرګند او تصریح کړي، البته په هر صورت کښې به د حزبونو شمېر زیات نه وي. یو د حکومت تشکیلوونکی حزب او بل د هغه مقابل حزب، ځکه چه د دوو ګوندونو د نیا تو منځ ته راتلل د متعددو اهدافو د منځ ته راتلو په نسبت د ښارونو خطرو منځ ته نه راوړي.

پوښتنه: ښاغلی صدر اعظم د کابل پوهنتون استادانو او محصلینو ته د خپلې وینا په ویلو کښې وویل چه د حقیقي دیموکراسي د منځ ته راوړلو په لاره کښې یو لړ مشکلات شته دي، د غه مشکلات څه شی دي؟

ځواب: د دیموکراتیک نظام د راوستلو په باره د نورو ټولنو په شان د دیموکراتیک اساسي قانونونو وجود دی چه د هغه په اساس تفکرات منځ ته راغلي، بل صورت یې د هغه د تطبیق د پاره د ارګانونو او دستګاوو جوړول او د

د دې ګوندونو او تفکیک دی.

اساسي قانون په لومړنۍ مرحله کښې عبارت دی د یو لړ مقیاسونو او د حقوقو او زمینو نو لړ ایجادولو څخه. په یوه جامعه کښې د هغه د عملي کولو د پاره باید د خلکو او قوا نیز نو منځ اساسي ارتباط برقرار شي چه په ټوله کښې د دیموکراسي د بوالی نشه کلمه وي.

دیموکراسي یوازې د قوانینو د جوړولو او د دې ګوندونو او د تفکیک مفهوم نلري بلکه یو د بل سره مقابل کښې د خلکو معنوي او اخلاقي روابط ایجابوي.

چه داسې ټولنه کښې چه په سختو کښې نوي نه دي [illegible] ایجابول آسان کار نه دی، [illegible] مشکل دی.

تمرین د دې هم مشکل دا دی چه د دیموکراسۍ کادرونو د [illegible] د پاره د [illegible] شمېر کم دی.

د دغې موضوع د څرګندولو څخه مې مقصد دا نه دی چه افغانستان په دیموکراتیکې اداري

منلو ته چمتو نه ده ، البته په ځینو هیوادو کښې
کښې سیاسیون دخپل نفعه دد رام دپاره
په خلکو کښې د سیاسي او اجتماعي شعور د فقدان نه
بهانه ګرځوي او وائي چه د دوی قوله د دیموکراتیک
اداری د طرز او د دیموکراسی اصولو د منلو
دپاره حاضر نه دی — زه عقیده لرم چه
د دیموکراسي اساسات زمونږ د خلکو په منځ
کښې شته دی ؛ همدا اوس د مهمو موضوعاتو
فیصله د خلکو د اړونده مراجعو د لارې څخه کیږي
البته د قبیلوي دیموکراسي او حقیقي دیموکراسي
د ځرګندوالي ترمنځ ډیره فاصله شته ، او زه عقیده
لرم چه مونږ دغه فاصله طی کولی شو .

پوښتنه : ستاسي د پوهنتون استادانو او
محصلینو ته پخپله وینا کښې د نورو طبقو ته نقش ته
اشاره کړې ؛ آیا امکان لري چه په دغه باره
کښې توضیح راکړئ ؟ —

ځواب : له ټولو پوهنځیو نه زما مقصد
دا دی چه مملکت منور او روښنفکره طبقه
د هغوی نوي مسئولیتونو ته متوجه کړم ، پوهنتون
استادانو او محصلینو ویل ځرګند چه زه هم
د هغوی اجتماعي څخه یم نو ځکه ددغه مسئولیت

چه معظم همایوني اعلیحضرت ما ته سپارلی دی
د هغوی سره مشترک ګنم ، زما په نظر دیموکراسي
نه یوازې یو حقوقي شکل کیږي بلکه زیاتره د نظر د
لحاظه د طبقو د تیلو جنبه لري ، باید منوره
طبقې په زوره کښنه ادبیات ، د افکارو د تشتت
څخه اجتماعي تحولات منځ ته راولي .

پوښتنه : ښاغلی صدراعظم دخپل حکومت
د خط مشی په وینا کښې وویل د پرمختګ نه
وروسته تر لاس لاندې پروژې او د دوهم
پنځکلن پلان نوې پروژې د امکاناتو او د خپل
مالي طاقت په حدودو کښې عملي او تطبیق
کړو ، د دغې پروژې مالي امکانات او عواید
به څه وي ؟

ځواب : د افغانستان پشان د مملکتو
انکشاف یوازې د هغو په ملي عوایدو باندې
متکي نشي کیدلي ، د دې لپاره چه یو
په انکشاف هیواد داسې مرحلې ته
ورسیږي چه پخپلو داخلي منابعو
باندې متکي شي ، له ټولو څخه لومړی
باید بنیادي کارونه په مملکت کښې
سر ته ورسول شي ، د دغو کارونو سرته

رسولو د پاره تولنځ په انکشاف شوي اودوغه
د دوستانو بې تیله او مشرطو مرستو ته
اړ دی، په افغانستان کښې د انکشافي
چارو د مصرفه رسولو د پاره له داسې شکلاتو
سره مخامخ یو چه یولې د داخلي لګښتونو
تللاني ده. په افغانستان کښې د مالیاتو
د درکولو د پاره د خلکو شمیر په محدود دی
او موږ د داخلي منابعو څخه د نهائي استفادې
په لاره کښې د ټولو کوښښونو سره سره
د دوستانو له مرستو څخه نشو بې نیازه کیدلی.

د بیلو بیلو پروژو د مخارجو اسعارو د برابرولو
په برخه کښې د دوستو هیوادو هڅو کولو ته
اړیو چه موږ ته ئې وعده راکړه شوې ده
که دغه مرستې په پوره وخت را ونه رسیږي
نو د ځینو پروژو په سرته رسولو کښې به ځنډ
پیښیږي. زمونږ پلان شکل په کافي اندازه
دغی پریموتل نشوالی دی که څه هم موږ
د کار د جریان په وخت کښې د ډیرو کولو په
اصولو یو شمیر ماهر کارګران او تکنیسنان
روزلی دی مثلاً د سړک د جوړولو په اساسي
پروژو کښې چه لوس مسلعتي له خلکو څخه نږدې

زیات افراد په کښې موظف دی زیاته تجربه ئې
د کار د جریان په ترڅ کښې روزل شوی دی.

پوښتنه: د پاکستان د لارې نه د تجارت
د بندیدلو اقتصادي تاثیرات په تیره بیا په
ګمرکي محصولاتو، د وارداتي مالونو په قیمت
په انکشافي پلانو او د دولت په عمومي مصارفو
باندې څنګه دی؟

ځواب: د کراچۍ د لارې نه د ترانزیتو
شلیدل چه د افغانستان د تجارت
عنعنوي او طبیعي لاره ده طبعاً د افغانستان
په اقتصادي اوضاعو او انکشافي پروګرامونو
باندې بې تاثیره نشي پاتې کیدلای، لکه
چه نن هم د افغانستان پوزیات شمیر مالونه
او ماشیني وسایط د ترانزیتي لارې په اوږدو
کښې بند پاتې دی. البته شوروی اتحاد
او ایران د کار وړ دوستو هیوادو په همکارۍ
سره د مملکت د وارداتو او صادراتو شیانو
لپاره نوري ترانزیتي لارې پیدا شوي دی.

پوښتنه: آیا ستاسي فیصله خو چه د پلان
پیانسمان کښې په سرکې پیښ شوی شوي و
له پنځه تللي ده او که څنګه ؟

ځواب: داخلا لا تراوسه شته، موږ کوښښ کوو چې هغه دې لزومو مصارفو دمخنیوي او د دولت دعایداتو په زیاتولو سره کمه کړو، که پیش بیني شوې مرسته چې له دوستو هیوادو څخه لاس ته راتلونکې ده دغه خلا پراخه شي.

پوښتنه: د پولي ریفورم لمړني تاثیرات څرګند دي؟

ځواب: د پولي ریفورم څخه نژدې یوه میاشت تیریږي او لا تراوسه یې نتائج پوره نه دي څرګند شوي هیله لرو چې په پولي ریفورم سره د (افغانۍ) بین المللي بیه برقراره کړو ځکه چې د اسعارو او تیر تفتیقو نرخونو تعدد په اقتصاد او تجارت کښې ګډوډي پیښه کړې وه.

موږ عقیده لرو چې کروندګرو او تجارانو د پیسو نرخ په تثبیتولو سره د صادراتو اندازه زیاته شي، د مصنوعاتو د اشیاوو د قیمتونو څخه به مخنیوی وشي او له دغو لارو څخه د دولت عایدات زیات شي.

پوښتنه: ښاغلی صدراعظم د حوت په ۲۳ نیټه جمهور ویناکښې د ویل چې انفرادي تشبثات به د هغه اقتصادي سیاست چوکاټ کښې چې غوره کړی مو دی حمایه او زیات تشویق شي، آیا دغه کار د انفرادي تشبثاتو په باره کښې د پالیسي تغیرته اشاره ګڼل کېدای شي؟

ځواب: زه عقیده لرم چې نړیوالې دولتي پانګې اېښې دي د ځان دپاره منحصرې کړې باید په یوه مستقره جامعه کښې ټول خلک کار وکړي، پانګې نه شاید چې په غیر تولیدي لاروکښې لاسکیا پاتې شي.

له کروندګرو او تجارو څخه د پولي ریفورم په اثر پوره تشویق شوی دی او د داخلي او خارجي پانګې اېښوولو دپاره هم مناسب شرایط منځ ته راغلي دي، موږ کوښښ کوو چې په ملي تولیداتو کښې د لاد منوونې شوې اقتصاد په چوکاټ کښې د ناوړه استفادې څخه وړینوله شي، موږ په نظر کښې لرو چې ملکنۍ پانګې په تولیدي لارو کښې په کار واچول شي.

پوښتنه: په هغو اداري ریفورمونو کښې چې د حوت د ۲۳ نیټې د وینا په ترځ کښې هغو ته

ACKU

اشاره شوې ده حکومت مسئله حل په نظر
کښې دی ؟

ځواب : په دغه برخه کښې ترلاس لاندې مسئلې د بري دي ، د مملکت اداري چارې لا تر اوسه پورې پوره عصري نه نه ده غوره کړې ، د مامورینو د معنوي وضع له نظره هم کمزورتیاوې شته دی .
معاشونه د مامورينو د ژوند اړتیاوو د پاره کفايت نه کوي .

د ملکي وظايفو د سرته رسولو د پاره په مؤثر توګه د لايقو مامورينو روزنه ضروري ده . د همدغو مشکلاتو د لرې کولو د پاره نقشې ترلاس لاندې دي چه په مساعد وخت به عملي شي لکه چه پر دې وخت کښې د مامورينو په معاشونو کښې د اقتصادي پلان سره سم په سلو کښې شل زياتوالی راوستل شو .
زمونږ مقصد د مملکت د اداري اصولو د ريفورم څخه دادی چه يا يې د دولت مامورين د خلکو دوست او معاون وګرځول شي او د هغه علاقه او کردار د خلکو او دولت اعتماد ور ته …

جلب کړي .

پوښتنه : د حوت د ۲۴ نېټې په وينا کښې وويل شو چه د پښتونستان د ورونو د مشروعو حقوقو د ترلاسه کولو د پاره د افغانستان کوښښونه به د مسالمت له لارې څخه دوام وکړي آيا د غه وينا د پاليسي د تغيير مضمون لري ؟

ځواب : د پښتونستان په باره کښې د دولت پاليسي د … شي په وينا کښې څرګنده شوې ده ، افغانستان د پخوا پشان د پښتونستان د خلکو د غوښتنو پوره ملاتړ دی ، زمونږ هيله دا ده چه د دولو غوښتونکو مفاهمه وار مند … نيت له لارې څخه د دې مسئلې د حل د پاره چه په دغه منطقه کښې د استقرار د زمانې له نسبو څخه ده توفيق لاس ته راشي .

پوښتنه : د افغانستان د حکومت د يو تن نطاق له خولې څخه داسې وويل شوي دي چه انتظار کيږي پاکستان د … د ښه پېژندلو د پاره په مناسباتو کښې د ښه فضا د پيدا کولو د پاره يو مثبت ګام واخلي ، آيا دغه کار عملي شوی دی ؟

ځواب : د دوارو هيوادو ترمنځ د دوامدارو … کولو

د پاڼو د ایران د اعلیحضرت شاهنشاه
کوښښونه لا روان دي، که څه هم تر اوسه
پورې د پاکستان د حکومت د یو جانبه تردید
په اثر کومې نتیجې ته نه دي رسېدلي خو بیا هم
د دغو کوښښونو د بریالیتوب امید کېدای
شي، باید ووېل شي چه د دواړو هېوادو
ترمنځ د ترانزیټ او روابطو مسئلې او د پښتونستان
د مسلې په باب سیاسي اختلاف دوه بېلې بېلې
مسلې دي، که د پاکستان دولت وغواړي
د ترانزیټ او روابطو مسئلې د پښتونستان
ورونو د مسلمو حقوقو د حمایې په مقابل کښې
د فشار د یوې آلې او معاملې په حیث استعمال
کړي بیخي تېروتلی دی.

پوښتنه: ایا د افغانستان او چین د ولسي
جمهوریت ترمنځ د سرحدونو د ټاکلو مذاکرې په
باب څه اقدام شوی دی؟

جواب: تر اوسه پورې کوم اقدام
نه دی شوی، ټاکل شوې ده چه د دواړو خواوو
حقیقتونه د ځمکې د مساحتې په دقیقو رڼا
کښې په کامل ګډه سره راغونډ شي او وڅېړل
په چټکه ډول وکړي. (پاته لري)

سید محمد طاهر بیتاب

# آرزو

د بنګلا نه دې کم خپه دا پنګا وو شه
څه قدر د منظور منظره شه
په مرموزه موسکېدو کښې لطف وکړه
مهربانه د مینو په پیاره شه
څه خوږ و پوښتنه د کرم او کیفیت سره
په تعجب او تفکر او اشاره شه
په زړګي کښې کړې ځوښ غم د هجران ونه
لکه روح غوښتې د تن په ننداره شه
په تړاوې د سترګو لختي وچ شو
تر په سینه کښې د زړه فواره شه
بار د مینې په ملامات په لمبو سوم
په کتنه کې د قد او قواره شه
د احسان او نیښ هم کړه داسې راشم
د رحمت د زړه مې مشام باندې خپره شه
بیا شعر شه په منتو کې د بیتاب کښې
میلمه شه د ښکلاګانو مظاهره شه

---

ACKU

محبوب جبارخيل

# اى زما په حال ناخبره آشنا

رحمېږه! هو رحمېږه!
چه زما د زړه سراوی ګلان ستا د رحم
او عاطفې په مسکا او خندا بدلې شو لـه
وغوړېږي او د انتظار دا ګلونې دې
خوشبينې به د دې سوي زړه غوټې
ووځي او له ... ته د راحت په بالښت
سر کېږدم، اوس د غمازې شپې
په تېرو تياره کښې يوازې او يوازې
يم، بستره کښې ستا د هجران خمک
پړې ... په هر او ته چه او رهيچې مې
او غوږونې مې شوی دی، دنيا راته سور او
ګرځيدلی او نشم کولای چه نور د چيدانی
هم ړنده يو ځو کښې يوازې تير کړم.
زه يوازې نه يم ستا غم زما ملګری
دی تل مې د تصور په بازار داندې ليږوي
کوڅه ګرځي مګر هلته ستا د بنا ليښه
وغماره او ګلالې مخ دا مار چيچلی غمازان
د سنګر ګود ښو نيشان سپړلی ته ولاړ يوی
نه پرېږدي چه ستا د سر په خاطر کېنږدي
پرېږدم او هلته ستا د ربه خاکروبانو
کښې شامل شم.
زه څه وکړم، د يوې خوانه ستا د هجران
سيلی خزان کړما او د بلې خوانه ستا د رقيبانو
د ظلم په اور کښې سوزم، وصال دې غم خوړلی
او هجران دې غم.
وصال دې غم هجران دې غم دی
زه نامراد عاشق غم خوړلی يم
وصال دې را ته هم کم ... انځېښې بيرې ګړنه
او که ... تو ... زه خو په ګله د خپال
په سمند ... ځي کښې لاهو شم ... صبر
د واشو ... نه و سکه ... يه دي
چرت کښې لاهو شم او فيصله ... دې وکړم
چه يوازې ستا غم دی چه زما د مړاڅي ړو
د ايله چه د دنيا ... ونه يم ... ی

د کړی د ښار د حریق د مناظرو څخه



**د کړی د اور څخه لو سره د افغانی سری میاشتی د امدادی موادو د ویشلو په وخت کښی**
ښاغلی تورن جنرال خان محمد د ننگرهار د نائب الحکومه کفیل او عسکری قوماندان
د وینا په حال کښی لیدل کیږی. (د ننگرهار د مطبوعاتو عکاسی)

هدایت الله (شفقت)

د کنړ د ښوونځي د اتم ټولګي نه

# خوښ یم

لکه منصور په سر د دار خوښ یم
ستا محبت کښې ګرفتار خوښ یم

تاج او تخت نه د دنیا نه غواړم
کچکول په غاړه خوار و زار خوښ یم

په عاشقۍ کښې د مجنون ثاني دی
فرهاد دی عزم کښې تا چا زخوښ یم

د دنیا څو روزګار نه تیرمه زه
په کار د فتنه کښې بېسا زخوښ یم

په حال مې ته رحم ضرور وکړه
خو به دې غم کښې دل آزار خوښ یم

د ځان عزت مې په کار نه دی ګوره
زه مشقت کښې هزار بار خوښ یم

په تبسم دا ته نظر کړه آشنا
چه په نظر دې بې زړه وار زخوښ یم

زه (شفقت) ستا محبت کښې زار یم
لکه بلبل ګل په چمن زخوښ یم

---

لکه چه څنګه ستا د خبرلیو کښې د حاتم کوکي د هم دا زما افتخار دی ..... اګر که اوس دا باندې په ډېر مشقت او زیار دا ځوان زړه نه تیرېږي خو دا خیر ... عاشق ته د هیچا سترګې نه ګورېږي دی ویل خواته زه ما ته وته د ځان عتاب په حال کښې وی او د لې خواله ځان زان وته د خوف زړه ی پناه غوښتې ده. پرېږدی چه دوه دیني ته ورته شه پیښه قالب کښې ځای ونیسي او یادوه او نکې مشر تر دې خو چه دینې سرانجام شي د خو شالی او محبت په صحنه کښې د دیني پخېږي کښې اجرا کړي، زه خبر .........
خوښ ستا به غاړه ونیسه وی او پاک خدای دی به دغه په ځینو ځای کښې بو ښفته وکړي.

مجاهد احمد «نیلاب»

# د هیلو مزار

ای زړګیه څو به غم د بیوفا لیلا کښې ژاړې

لیلی لو خوندی په غرور او په میړه بیدیا کښې ژاړې

چه پریږې ستا بیوزلو ارمانونه ترل شوی

د وصال په هیله هسې په لاهغه دریا کښې ژاړې

لکه ورځ چه په بریښنا کښې اوښکې توی کړې په ژړا شې

هسې ته هم له ډېره غمه په خندا کښې ژاړې

تا زما باغ دی رخوا له کړه د خزان سیلو مړاوی

ته به خوا هغه بلبل یې چه د ګل سودا کښې ژاړې

د غم سوز و د لیلیا به دې ژړا زخم کړی مجاهده.

لکه شمع چه د هیلو د مزار په خوا کښې ژاړې

ننګیالی خیبریانی

# دلته

دلته همدردي ده د دردمند سره دردونه شته
دلته خواخوږي ده هم خندا هم هوسونه شته
دلته ګټګیروي د یتیمانو ته تسل شته دي
دلته د خوارانو زخمي زړونو ته ملهمونه شته
دلته دي نهضت د بچي ژوندون هوښیاري دي
دلته کوښښونه، تکلیفونه، زحمتونه شته
دلته سیال سیالي او هوسا ئي لاره فنا شوله
دلته زیار، ریبرونه د فکرو انقلابونه شته
دلته خودبیني احساس د شرپانه هیڅ شوی دی
دلته حقیقت سره ملګري ښه رازونه شته
دلته د درم او د دینار قدر و عزت نشته
دلته د اخلاص او مینې ډک ډک صحبتونه شته
دلته آزادي ده آدمیان شي او ویلي شي
دلته ننګیالیه هر هر شه ته ځوابونه شته

سيد محمد ابراهيم بينا

# منجنيک

دا منجنيک يوه لوبه ده چه پښتني وړوکي
سره کوي ، دا لوبه دوه کسيزه لوبه ده
دوه کسه هلکان چه سره ئې مصالحه وي
شي نو بيا دا لوبه په يوه هوار ميدان
کښې شروع کوي - ددې لوبې اسباب
او لوازم هم ډېر څېزه دي چه يو دلوګی
منج دی په هغه په ميدان کښې ټک وهي
او بله يا د کور دوړی او يا د ډبرې دوه ګوټه
ټوټې وي دره ګټيزه چه هغه ته ګاډی
وائي او ګاډو له ئې هم بولي د منج او ګاډي شکله
نمرې دا دي :




نو اول منج ترښيا ئې يو ډېر په زمکه ښخ کوي
اتکل ئې ډې بيا په تخمين لس قدمه
يا زيات لږ مسافه کښې يوه کنده يا يوه
کرښه يا يوه نښه رکوي هغه ته پاټه وائي
چه پاټه سره تصويب کړي ګاډي ته واخلي
يو څوک ئې لومړی او بل ئې منج کوي او په وار لمړی
منج وا چوي چه د هر يوه وار شو هغه به پاټه
د ډېرې او منج ته نښيله ګاډي ته ور اچوي
ور ليږي ئې هغه بل اچوي چه د هغه ګاډی
منج ته نژدې ولوېږي نو هغه به بيا د ګټلو
ګاډی ترښا د لاس د ډېرې ګوتې په تکان
چه په بل لاس به ئې نيولي وي او په ګاډي ئې
ور خوځې کوي که منج به ولوېږي که منج خطا شو بيا
به ئې بل ولي که د بند هم خطا شو د وار په ډول
ئې منج ته بيا ګاډی و وا چوي او که ولګېده
نو لوبه ئې وګټله د منج هغه به په خپل
مطلوب مکان سره ...
د پاټې پوري به ئې وړي هلته به ئې
په شا سوره چوړلک به ور کړي هغه به
عين چوړلېد وکښې ګاډي ته منج نه ورکړه او

کړي بيا يې ترڅنګ کورنۍ کټه کاد کډه نژدې
ولېږدي لې وي که لېږي، کوڅې په ټکان
به غنج ولي که يې بيا وویشته بیا به په
پاسني ترتیب ور وړاندې کېږي او ددې يې
سره به يې چوراوي ... غصه به په چوراو لو
کښې څاد که غنج نه وراچوي ترڅو وخت
چه غنج ورسره خطا شي نو لو به ختم شي
بیا بیا يې نه ورځي او غنج ته کادي را اچوي
او خپله لو به کوي .

دا لو به هم دوه ډوله کېږي
سپورتي حیثیت لري او په عین لوبه
کښې چه په چور او لو کښې کادي غنج ته
ورغورځوي دا هم یو هدف ته
ور رسول که سرګرداني هم ولري
پکښې تمرین کېږي او د احساس
بیداري پکښې لیده کېږي دوهم
صحي وضعه او بدني تربیه هم پکښې
وجود پیدا کوي او د پښتنو واړه يې
د لوبو حال کښې د سعادت خزانه سوق
کړي دي دغه شان به په هره پښتني لوبه
کښې د حقیقت ثبوت او په ډېر نیکه ډول پیدا کړي

# د زړګي تسل

محبوب جبارخیل

ته چه لاړې د وصال باغ و بوستان ته
ما به چا سپارې د لېږه یک تنها

✿ ✿ ✿

زه به څنګه د هجران غمو کښې پاتې یم
ژوند به څنګه تېرومه بې له تا

✿ ✿ ✿

ستا د مینې راز به چا سره شریک کړم
جدائي چه دې اختیار کړه خامخا

✿ ✿ ✿

د مظلوم زړګي تسل به په څه وکړم
چه دې نه وینم د مینې په دنیا

✿ ✿ ✿

ما خالد (محبوب) به ستا غم لېونی کړې
چاره نشته ستا د هجر له بلا

✿ ✿ ✿

ښځو برخه :

پېغله ښادو

# د کوچیتوب هوس

یاره ښاري تر پام بد شو — دلته حسن او ښکلا نشته

د پوه روح سپېڅلی زی — نو رڼه نور او صفا نشته

دلته پېغلې جوړ ښکته خو — نه اوبه راوړي نه ترخې

د سکولونو ئې وي لاړې کېږي — له هنداره نه راځي

دلته پېغلې ناوې ښتې خو — د کارونو سیالي نشته

د پارکونو په چکر کېږي — د کور د خوشحالي نشته

دلته حسن او غرور نشته — پوه چې ځي خود نمائي ده

زړه خو هسې په شور کېږي — بس د ستړو کندائي ده

دلته شور او مستي نشته — تش د زړه په زور خندل دي

تشخ ده په هر ځای کښې — کړکتل که غږېدل دي

دلته ښکلي زلمي هم نشته — خو له عشقه نا آشنا دي

تش د ځان په جوړېدو دي — بس له ځان سره لګیا دي

عاطفه به کړي له کومه — چه په وچو شینډ لوی شی
چه بې موره تربیه شی — هغه زوی به د چا زوی شی
په دې ارتو وا تیو کښې — د لمنو وسعت نشته
په دې خو نوره تنګو کښې — خو د غرور نو عظمت نشته
کاشکی د رغلای هغلته — چه جمال او جلال دواړه
لکه زما او د تا مینې — شا مدام وی لاس تر غاړه
کاشکی زما او ستا د دواړو — په وړه غوټه کښې دي وای
په شپاله کښې راته پنډې — یو څو مېږې یو څو وری وای
چه کوچیان په کوچ روان شوای — زه او ته هم لښېد لای
ژمی ځموږ ته اوښتنای — د وږي غرونو ته ختلای
لکه دوه ستوري د یوه ځنې — په یوه زړه په یو خوا تلای
تا دې مېږې څرولای — ما دې کور سنبالولای
نه فریب نه تصنع وای — نه محتاج د یو دروغو
نه مرتش وای ژوند له شوره — نه پابند وای د مودو ولو
دا یو رنګه ژوند به څه کړم — لیرې دم لیرې دم یاره لیرې دم
که ته نه چې خنه مشي — دا خو زه من زړه به د لیرې دم
یاره سبا ړې تو یام به شو — د لته حسن او مینه نشته
بس سرخي او سپیدې ادي — رنګ چلیږي و پیه نشته

( زړ[illegible] )

# علم او ژوند

پښتنه عارفه رحیمي
د ... ښوونځي د اتم
ټولګي متعلمه

علم یو داسې روښانه ډیوه ده چه جهل تاریکي له منځه وړي او یوه داسې وسیله ده چه د هغې په ذریعه بشر کولای شي خارجي فضا ته سفر وکړي او د فضا له اسرارو او رموزاتو څخه ځان خبر کړي. علم او معرفت په سبب د ژوند اکثر مشکلات حل او رفع کیدای شي او هغه ملت چه د علم او معرفت په ګانه ښائیسته وي د هغو ملتونه خپلو مقاصدو او مطالبو ته رسیدلي وي او د خوشحالۍ او نیکمرغۍ په جامو پټ دي. نن ورځ د ډېرې خوشحالۍ ساعت دی چه د افغانستان د نجیب ملت کاروان هم په ترقۍ او نهضت روان دی او د وطن هر فرد غواړي که څه هم د خپلې آرامۍ او نیکمرغۍ په غرض شپه او ورځ هڅه او کوښښ کوي او د وطن آبادي او سمسورتیا غواړي. او هر یو سره د احساس او شعور پیل شوی دی چه علم د ښوونځي او عالي ادارو او مقاصدو ته د رسیدو لپاره او د ترقۍ او ښه والي زینه ده.

په پای کښې د خپل ګران وطن له ټولو ورونو او خوېندو څخه هیله کوم چه دوی باید د خپل عمر ګرانه سرمایه بیځایه او بیهوده مصرف نکړي او د علم او معرفت له کاروان څخه بیرته پاتې نشي، او هم هر یو په دې حقیقت باندې پوه شي چه د علم ساحه ډېره پراخه ده او د ژوندانه د ټولو ضروریاتو پېژندل او د دې امورو څخه خبرېدل د علم حقیقي مطلب او مفهوم ګڼل شوي دي او بې له علم او معرفت څخه څوک خپله نیکمرغي او خوږ آرامي او نیکمرغي نشي موندلی.

## دګرزي ښار دحریق د مناظرو څخه



د سرې میاشتې دمرکزي ټولنې اداري امر ښاغلي اختر محمد، اورځپلو ته د امداد دوړ کولو نه مرکبنې د وېشا په حال کښتل کېږي، — ( دننګرهار دمطبوعاتو عکاسي)

کیسه :

## ناکامه مینه

۲ - رقانت

د کلي د لس په بانډو کښې يو ملنګ اوسېده چه هلته د يوه زيارت په خدمت کښې لګيا ؤ.

ملنګ په کور کښې دوه لوړګاني درلودې چه ډېرې ښکلې او ښايسته وې، د ښايست او ښکلا جوړه ئې په شاوخوا کلو کښې نه وه. لمنځه چه خبرې کړېوان او پيوندي جامو د دوی ښکلا او ښايست داسې له منځه وړې ؤ لکه چه سپوږمۍ په ځلکښې د تورو وريځو غوړسېدو د ريبړي او د هغې روښانتيا پټه کړي.

غريب حسن د تل د پاره د نظره ولېدلی او تر سترګو هيڅ نه ښکاري.

ښېښتا نه وائي چه د انسان يو نور جامه ئې بل نور. د ښنتيا خبره ده چه جامو ښايست او ښکلا د انسان په ښايست پورې تړلې شوې ده. که د يو انسان ښايست او ښکلېتوب په جامو او فيشن سره برابر نه وګاڼو د انسان ښکلېتوب او ښايست په څېرې او شکيل له جامو کښې ورلټوئ.

همدا رنګه د ملنګ د لوړګانو ښکلېتوب او ښايست په شکيلو او پيوندي جامو کښې ورک شوی او په سترګو نه لېدل کېدل.

د ملنګ د لوړګانو مور مړه شوې وه او پلار د خپل پلار څخه ئې نور څوک د پالنې او روزنې نه ؤ چه د دوی نه ئې پالنه او روزنه وکړې وای. سباهم سره د دې چه د ژوندانه د راتلونکي وخت فکر د انسان په مغزو کښې وي او غواړي چه د سبا د ورځې غم په نن ورځ وخوري شي. نو د ملنګ لوړګانو د خپلو کورنيو او زيار په وسيله د خپل ژوندانه د معيار د پوره نه کېدو او منم کېدو د پاره هڅه کوله

ACKU

چې په کورنۍ چارو کښې د محتاجۍ څخه
خلاصې شي .

شپه او ورځ به د کور په کاروبار
کښې بوختې وې ، که څه هم د ملنګ کشره
لور وړه وه نو د مشرې خور په لارښوونه
به يې کار ونه ته سره کول چې د کورنۍ
کار سره پوره آشنا او بلده شي
د ښځو او د کور د سمون د چارو څخه
برسېره به يې سکوټۍ او نور د ښځو کارونه
پوره ترلي وځکه چې په راتلونکي وخت
يې د رسېدونکي اجرا کولی .

ملنګ به د ورځې له خوا د زيارت
ترڅنګ د پره کښېناست او کله کله به تللي
ملنګ چې ګرځېده ولوړګانو به يې د ننه
په کورکښې خولګه ، د سمالوته او نور د بالګ
زخرفانه نښيان جوړول او زخرخون د پلاو
به يې بازار ته استول چې د ټنګسې وسيله
به يې ډېر ټرې او پښه يې ښيان نخا نونو
د پاره پيدا کول .

شپې ورځې مياشتې کالونه په منځکښې
و وتل د ملنګ مشره لور په پړۍ نو مېده
د پيغلتوب موسم ورباندې د ننګلا کلان
وغوړول ( پېغله شوه ) د کلي ځوانې به
ورته راتللې سکوټۍ به ورڅخه يادوه
د د کې د قابلتوب نوم د ننه په ټولو
کښې خپور شوي ؤ ، د ملنګ د کور ترڅنګ به
يو ځوان چې فريد نومېده او د بل وطن څخه
مسافر راغلی ؤ او د ملنګ کلا ونډې شوی
ؤ د ناخوان وو د سنه د څه وخت څخه
د ملنګ سره آشنا شو د فريد په ښه
اخلاق او خوی سره د ملنګ او ده سره
منځ کښې د دوستۍ ورېبنه شوه ( دوستان شول )
د ملنګ او فريد دوستي دې حد ته ورسېده
چې د فريد ځلي ، کالي ګنډل او نور د ملنګ
د لورګانو په غاړه شول فريد چې به
د کور څخه د باندې ووت د ملنګ لورګانو
به ورته ځای جاروکړ او ځلي به يې ورته
وکړو که کالي به يې ځيرن ؤ څخه به يې هم
وګنډل فريد چې به راغی څرڅه به ورته
تيار وه فريد د ملنګ د دې احسان په
مقابل کښې ترڅنګ وسعې پوري د ملنګ سره
مرسته او کومک کاوه ، د کور سترې ورڅخه به



ACKU

تر یې به د ملنګ کورته ننوتلو او هلته به کېناستلو .

ځرنګه چه د ملنګ لور پرې د وړکتوب څخه د بره ښکلې وه نو د پېغلتوب په وخت کښې د ښا ېست ستورې په سپوږمۍ بدل شو .

فرید چه به کله د ملنګ کورته لاړو نو د سترګو لاندې به یې د ملنګ د لور (پرې) د ښکلا او ښایست ننداره کوله او پرې به د فرید د سترګو ننداره کاوه . د مینې محبت په تار چه دوه زړونه وتړل شي که بیا د امینه هر څو مره پټه پاتې شي آخر ښکاره او څرګندېږي .

د فرید سره د ملنګ د لور مینه په زړه کښې د ننه مېلمه شوه او د هغې د زلفو په دام کښې بند شو ، د شپې ورځې به په دې فکر او سوداکښې وُ چه زه به څه ډول د خپلې مینې او محبت هنګامې د پرې غوږ ونه وسوم .

ستا یادونې تمې زړه کېږي
په ځنځیر به آشنا درسره شمه

فرید بانډې د پرې په ننداره و سره خپل کورته ان ګرځېدلی وُ ، نا آرام او ناکراره کښې ناست وُ ، او د خپلې هوسانۍ د پاره به یې د ملنګ کور غنیمت ګاڼه او هلته به تللو مګر له وېرې او خوف څخه به یې د خپل زړه حال پرې ته نشو ویلای د دې د پاره چه وسواس د امید و نوا و هیلو د سره وازې لاتر ټل د پاره بندې نشي .

فرید چه به کله د ملنګ کورته ولاړې هلته به یې د سترګو لاندې د خپلې معشوقې دیدن کولو او د خپل نا رام زړه تسلي به یې کاوه او هغه ننداره چه به یې تر کورته راغې نو د پرې په هجران کښې به لاس تر زنې حیران ناست وُ ، ویل به یې محبت!!!

تر څو ګټه دیونا آشنا سره هسې آشنا کړم چه د ننه د زړه په کور کښې راته مېلمه دې ، یو ساعت ګړې ګړې له یاده نه وځي کله چه له سترګو څخه مې جلا شي نو جهان رابانډې د تورې شپې غوندې شي هیڅ شی نه وینم . محبت ! تر څو چه دوه زړونه

په تالب کښې پوځای کوي، جل الئ تدئي نه پرېږدي، موږ، پلار، خور، ورور اولاد د نسب له لارې ګران وي مګر تر څو چه د چا د پاره ګران او محبوب وګرځوي نو نه په خپلوي نسب پورې اړه لري بلکه د مينا په اخيزه ګران وي او محبوب ګرځي. خپل پردي ورځنه باقي کيږي پوائي چه تا ورته په ګوته کړي هغه ليږې په وينيه او خوب کښې ځغلي.

شپې ورځې تېرېدې فريد د خپل پلار اوښتې په چوپړ، و او کښې نا کام پاتې کېده شپه ورځ به داسو دا ورسره ملګري وه چه نه په څه ډول د خپل ميني اعلان د پېرې په مخ کښې وکړم. هغه يوه پلا نو ده چه به يې د ځان سره و سنجول نتيجه به يې نه ورکوله او ډېر داسې وخت ورته پيښ کېده چه پرې نه د خپل ژړ حال وواي.

بله ورځ فريد ځان سره داسې فکر وکړ چه د پېرې کوره ته مه ځو او خپل کوکښې پاتې شه که چېرې دا خبره رښتيا وي

چه محبت او مينه له دواړو خواؤ څخه وي نو که پېرې په رښتيا زما سره مينه لري نو زما د خبر اخيستو د پاره به راشي څه وخت چه دا زما کور ته راغله نو زه به د خپلې ميني اعلان ورته وکړم بيا که هر څه پېښېږي هغه پېښ به وي.

لکه چه فريد همدغسې وکړ او خپل ځان يې نا روغه کړ، په کټ کښې پرېوت بريستن يې په ځان واچوله او د پېرې کور ته ورنغلو.

ورځ تېره شوه د فريد يوه تنه هيا ونکړه څه وخت چه ملنګ د شپې له خوا کور ته راغي چوپړ ته يې وکړه چه ولې فريد ښکاره نشو لو نو ډېر هم ورته ووېل چه نن موږ هم نه دي ليدلي او نه موږ کره راغلی دی البته چېرته لاړ به دی.

شپه تېره شوه په سبا ملنګ فريد کور ته راغي څه وخت چه ملنګ د کور څخه ووتلو پېرې د فريد د کور په خوا روانه شوه څه وخت چه د فريد کره ورسېده کورته

چه فرید په کمې کښې زخور پروت دی
پری ورغله او دکټ په بازو ئې کیناسته
داحوال پوښتنه ئې ورځنه وکړه چه ولې
پروون راهیسې نه ښکاری موږ ویل
چه چیرته به لاړ وی له تا ځخه خبر نه یو
چه ناروغه ئې ، حال وایه چه ... تا
څه چل شوی دی ؟

فرید چه دخپلې معشوقې ځخه دوستانه
په حالت کښې داخبرې واوریدلې او په
خپل طرحه شوی نقشه باندې بریالی
شو دخپلې مینې او محبت اعلان کوی او په
داسې الفاظو خپله معشوقه پوهوی .

دځه چه ته نروې هرڅه و مجادو
که څوک بیا ... شی نو ، بیا ئې ناروغتیا بولی
په ما پوری ښکې نو ، ځکه چه زما
سترګې په تا ونښتې روغ جوړ شوم او هیڅ
شی مې ونه لیدل او س روغ جوړ یم
او داسې ګمان کوم چه ته لا هم شی بیا به
هغه قول راشی او ما به په دې کټ کښې
زخور غوندې کړې ، پری چه داخبرې
واوریدې پوهه شوه چه فرید زما مینې
په ناروغتیا اخته دی او نور هیڅ نشته
نو په ساه ښولی آواز ئې ورته وویل لکه چه
زه ستا درنځ طبیبه یم بیا مسکۍ شوه
په دې وخت کښې د دواړو د محبت ځخه
پرده لرې شوه دواړه سره و پوهیدل
چه یو د بل مینان یو .

فرید ځواب ورکړ حقیقت دی چه
ته زما درنځ طبیبه ئې زما زړه دستا د زلفو
په دام کښې بند شوی دی او بې له تا ځخه
دنیا په ما باندې د توری شپې غوندې
ګرځیدلې ده .

د فرید دخولې ځخه چه پری داخبرې
واوریدلې او د فرید د محبت ځښې په زړه
نوره هم پسې ځنې شول وروسته د رخصت
اخیستلو په ژړه ویشلې خپل کورته روانه
شوه ، څو ورځې وروسته فرید دخپل وطن
خواته نیت وکړ او د پری ځخه په ژړا دخپل
وطن خواته رخصت شو په دې وخت کښې
د پری پلار ملنګ ناروغه شو او وروسته
دځه موده ناروغتیا ځخه ئې اجل ته لبیک
وویل او له دنیا ځخه ئې سترګې پټې شوې

پېرۍ او څورنګه یوازې په کوچنۍ پاتې شوی
د ملنګ یوتربور چه کچکول نومېده راغی
پرۍ او څورنګه د دې دپاره چه نارینه
په کوچنۍ نلري او بله داچه میراث
څورنګه هم یادېږه خپل کورته یې بوتللې
څه موده چه تېره شوه د کچکول ښځې خپل
مېړه ته وویل چه د ملنګ لورګانې
زموږ میراث دی په کوچنۍ هم دومره زامن
لرو چه یوسړی کال درې کلن کېږي
او دابل چه زما په غېږ کښې دی دا به
یوکلن شي دکلي یوڅو تنه سپین ږیري
راوغواړه چه دغه دواړه خپلو زامنو
په نکاح کړو سبا به بل څوک یې وکړي ښځې به
ښځې راڅخه لاړې شي مال به مال .

څه وخت چه دوی داخبره وکړه
مېړه یې ورته وویل چه ښه ده ښځې دستا
ګمان دادی چه داچه پېغلې به بل څوک
وکړي تسم شه چه بل څوک ورسره سر
کښېنوي دی ستا څه خیال دی ؟

دوی په هغه یې خبر وکښې وه چه
پرۍ په دوی راغله مګرځان یې وربانده

پوهنه کړه څو ورځې چه تېرې شوې
نو کچکول ته یې مخ راواړوه او ورته یې ویل
چه دشپې ما خوب ولید وچه ته او
ښځه دې په یو ځای کښې ناست وی
زما او زما د خور د نکاح په باره کښې مشوره
غږېږئ ، ښځه دې وائي چه پرۍ به
بادام ته چه سږ کال په درې کلنۍ
پېښېږي دی په نکاح کړو ، او تاجه به
اختر ته چه سږ کال یوکلن کېږي
په نکاح کړو ، تا ورته وویل چه ډېره ښه
که بل څوک یې وکړي ښځې به ښځې لاړې شي
مال به مال .

دې وخت کښې زما پلار راشي تاته وواٸې
چه کچکول ته زما د لورګانو په ورکولو کښې
اختیار نلري زما لورګانې نفسي خود دي
هر څوک چه په نکاح اخلي او که خپل سر
سپینوي . کچکول چه داخبرې د پرۍ
دخولې څخه واورېدې ورته یې وویل
چه پرۍ جانې تا به خوب لیدلی وي خو
موږ په وینه ستا د نکاح د پاره ترتیبات
نیولي دي ترڅو د بادام او تاجې د اختر د پاره

او ناستي به اوسئ ترڅو چه زما زامن زلمیان
شي او ستاسي نکاح هغوی ته وتړم ، پرې
چه د کچکول د خولې خبرې واورېدلې وویل
چه مونږ نفسي خود بو د مېړه لولو اختیار
زمونږ په لاس دی ته هیڅ حق نلرې چه
مونږ په زوره خپلو زامنو ته ښیا هسې
زامنو ته چه په خپله مړه هم نشي خوړلی

دا د پاک خدای لاره نه ده چه د سړی
لور چه په کورکښې پېغله شي پلارئې دا
ټولړی چه هغه بل چاته په زوره نکاح
کړی زه دا نشم منلی او نه شریعت راسې
امر کوی چه پېغلې دې شود وخوروناو
شلګانو ته په نکاح کړی مونږ نفسي خود بو
زمونږ په ور کولو کښې ته اختیار نلری .

دې وخت کښې فرید د وطن څخه راغلی
او د پېری په سننه ئې کړې ، چاورته ویلی
وو چه د پېری پلار ملنګ مړ شوی پری
او خوړئې د کچکول میراث خور په کورکښې
او سېږی فرید د کچکول کورته ورغی
د دروازه ټکوی ( دا هغه وخت دی چه کچکول
د پېری د نکاح خبرې اترې کوی ) فرید کورته
د ننوتو اجازه اخلی څه وخت چه فرید
کورته ننوځي او د پېرې سترګې په فرید لګېږی
خوښي او خوشالي ښکاره کوی ، کچکول غږ
کوی چه ای سړیه ته څوک ئې ځای دې
غلط کړو چه د دې ته راغلی ، فرید وویل چه
نه زه دلته د پېری پوښتنې ته راغلی یم کچکول پری
ته مخ راړوی وسته وائی چه دا څوک دی
پری وائی دا هغه سړی دی چه زه به ئې په نکاح
واخلم او په راتلونکی وخت به دا زما مېړه او زه
به ئې ښځه شم ، کچکول چه دا خبره واورېده چه ملی
را ته په کورکښې پیدا شوا و زما د نفسي اغراضو
نقشه سته نشي رسېدلی ښځي ته ئې غږ کړو او ورته ویل
چه هله ټوپک راوړه چه غل راغلی دی په دې وخت
کښې د کچکول ښځې مېړه ته ټوپک راورسولو مجا
هم ورسېږې په مشوره راغله او کچکول د ټوپک خوله
په دواړو مینانو د فرید او پېری خیا نلرې
را ښکته او د ټوپک کولیو باندې د دوی اواځې
صورت ته سوری سوری کړل ، د لجانې چه دا پیښه
ولیده لا نو سمه لاسه ئې په کچکول باندې د ټیږ ووار ته
وکړل څه چه د کچکول و بیه د نفسي اغراضو د پاره
په جوش راغلی وه هغې باندې ئې هم د ټوپک حاغور
نشی کړاو د فرید او پېری سره ئې ملګرې کړه .

ولي محمد طوفان

# د باچاخان پیغام

زه پښتنې! ابله او سرتور درپسې ګرځم — چم په چم او کور په کور درپسې ګرځم
ستا وطن مې کنج په کنج درپسې چې کړو — نه وینېږې، زوړ او شور درپسې ګرځم
اوده قام! خوشحالي ته مې شا کړې — ستا له غمه سوی سکور درپسې ګرځم

هیڅ خبر نه شوې له ځانه څوک یې څه یې؟
لا تر اوسه د هاغې خوب کښې اوده یې!

ستا د پاره ښهرونو او ترکو د ټکالي — چې دا سوې لوې کور د دله ګلزار شي
سره زخمونه داغونه دي زغملي — چې خزان له ځنځه لرې شي بهار شي
هر آزار مې په خندا خندا قبول کړو — چې دا ژوند پښتنو! تالره بازار شي

ډېره سپینه شوه زما په توره زندان کښې
ورورونو! څه را سره نه کېږي ارمان کښې؟

زه حقوقو له د دله ګټلو محتاج رشي — ته حقوق د خپل ارزو په خوله کښې ورکړې
زه د خپلو غېږو نو کاڅې کړم لعلونه — ته لعلونه د دنیا د په خوله کښې ورکړې
زه چمن د دله په سره وینو سمسور کړم — ته ګلونه د انګار په خوله کښې ورکړې

ستا د پاره پردي غمونه هم ستکوړ دي
ځکه دا ښکلی وطن د دښمنانو دی

که مظلوم یې د ظالم له وېرې مه سره — را شه ما سره ملګری شه قربان درته یم
د مقصد ښکلې لیلۍ ته په دې بېرته رم — را په دې چې زه د مقصد مجنون یم
ته او زه چې سره یو شو نو به قام شو — را شه قام شو ته پښتون یې زه پښتون یم

ACKU

محمدهاشم زغمشریک،

# دخپلواکۍ سندرې

دی شروع شوي په هرلوري دخپلواکۍ سندرې
راځي غوږو ته دخپلواک ژوند اوښادۍ سندرې

ملي میدان ته راوتلي غوږ ځنګونه کوي — د دښمنو توپ ډزو په غلیمو تورځنګونه کوي
دخپلواکۍ ژوند دپاره امیدونه کوي — استعماري طاقت به وژني ګذارونه کوي

داوري رباب ته نن غوږ ږدي د آزادۍ سندرې
راځي غوږو ته دخپلواک ژوند اوښادۍ سندرې

داستعمار په ګرد وباندې خبرې کا پښتون — دهر دښمن په مقابل کښې لکه غر دی پښتون
ځای دغیرت کښې معلومېږي لکه تلوار دی پښتون — کمزوری نه دی په قوت کښې هیبت ور دی پښتون

---

پښتانه که سره جمع شي او قیام شي
د دنیا دهر یو قام په وستړپام شي

خپلې دارې به هم ستا په ویوسرې کړي — لیونیه دلیوانو لیږې سر څه
د بقا او د ژوندون په طمع طمع — از سیلو فنا تللو لیږې سر څه
چه چپله ګړنګو ته روان دی — نو دې هیښي ګمراهانو لیږې سر څه

په دنیا کښې دهغو خلکو دوام وی
چه ئې خپلې ستروې اوخپل امام وی

د مردان رهبر



ACKU

د شپون شپېلۍ کښې دې شروع د خوشحالۍ سندرې

راځئ غوږ وته د خپلواک ژوند او ښادۍ سندرې

د غضا رخان په لوږو تندو پوهېدلي يو مونږ

د استعمار په دسيسو ښه رسېدلي يو مونږ

اوس په پوره عزم ميدان کښې درېدلي يو مونږ

استعمار وژنو په دې عزم راوتلي يو مونږ

په غرو رغو کښې آوروئ د آبادۍ سندرې

راځئ غوږ وته د خپلواک ژوند او ښادۍ سندرې

د تورې شپې تورې په ژوند کښې تېرولې نه شو

د غلامۍ جغ لره غاړه اېښودلې نه شو

چپاته بادار بادار په ژوند کښې هيڅ ويلې نه شو

د بل د امر لاندې خوشې ژوند کولې نه شو

په دې شلم قرن کښې مونږ آزاد جهان غواړو خپل

که سر او مال راځي ځي پښتونستان غواړو خپل

# د پښتونستان خبرونه

د پاکستان حکومت د بهمبرګ او سپدونکی
ښاغلی محمد امین، ښاغلی مشیر محمد
لو ښاغلی غلام خان همدغه راز د صوابه
د علاقې او سپدونکی، ښاغلی عبدالرشید
د آزادۍ غوښتلو د فعالیت په ګناه
بندیان کړي دي.

بله دا چه ښاغلی افضل خټک سړ
ردی چه سخت ناروغ دی او صحت
ئې ورځ په ورځ خرابېدونکی دی د ډېره اسمعیل خان
له جېل څخه د پېښور بند ځای ته بېول
شوی دی او پر دې پلمه چه تشه بستره
نشته تر اوسه [illegible] ده او لاندې
شوی دی نیول

د پښتو ژبې مشهور ادیب او
فلالوژست ښاغلی حسین بخش کوثر
د پاکستان په محبس کښې د زړه په ناروغۍ

اختر شوی او سره له دې چه نوموړی
په دې ورځو کښې د معالجې په عنوان
د ډېره اسمعیل خان له محبس نه د پېښور
زندان ته بیول شوی دی خو تر اوسه
پورې [illegible] په معالجه لاس نه دی پورې
شوی. نوموړی د ډېره موده کېږي
چه د پاکستان په محبس کښې پروت دی
او د لس کاله بامشقته قید په موده محکوم
دی.

د پېښور د ملی عوامو ګوند مربوط
د پاکستان څو تنو سترو شخصیتونو په
هغې غونډې کښې چه د ثور په ۲۸ نېټه
په لاهور کښې شوې وه د پاکستان
له حکومت څخه وغوښتل چه زمه
خان عبدالغفار خان او د پښتونستان
نور سیاسی بندیان خوشې کړي او
د محکوم پښتونستان په باره کښې

د ۴۴ ـ تجزیراتي مادې له دوام نه اوړي

د پښتونستان د ښار د بالا ماڼۍ اوسېدونکي
ښاغلي غلام حبیب او ښاغلي سید کا
په دې وختونو کښې د آزادي غوښتني
د احساساتو په اثر بندیان شوي دي
بلکه داچه په دې وختونو کښې یو لړ احتجاجي
پېښې د پښتونستان ښار او دهغه په شا او خوا
کښې د پښتونستان د آزادي غوښتونکو
له خوا شوي دي .

د کوهټ ښاغلي حاجي اکبر خان
ښاغلي ملک تازه گل خان، ښاغلي محمد لعل خان
ښاغلي عبدالله خان ښاغلي نصرت خان
او ښاغلي امیر محمد خان د پښتونستان
د آزادي غوښتني د فعالیت په اثر بندیان
شوي دي . بلکه داچه د ملتان په جېل
کښې د پښتونستان د دوو نومیالو
شخصیتونو ملک محمد عثمان کاني او میر
عبدالله جان جمال دیني صحي حالت ډېر
خراب شوی دی او ددوی د بند دوام
په صورت کښې به ددوی ژوند
له قطعي خطر سره مخامخ شي .

د پښتونستان د ټټه غلام دکلي اوسېدونکي
د ملي عوامي گوند ستر غړي ښاغلي محمد رفیق
دهغې سختې ناروغۍ په اثر چه په بند کښې
ورته پیښه شوې وه، په دې وختو
کښې مړ شوی دی .

نوموړی په با مشقته بند محکوم
او ددوو کلو را په دېخوا د ملتان په جېل
کښې د سیاسي بندي په حیث پروت و .

دجوزا په (۱۷) نېټه د باجوړ په بازوان
کښې د سالارزو د قبیلې د عالمانو، مخورو،
وکیلانو او کثیر شمېر خلکو په گډون ستره
جرگه شوې وه، په جرگه کښې د مشرانو
له خوا ... ساتلو د پاره
د ذریات ... یادي په باب کښې
مهمې وینا وې وشوې ... نمرینو
له خوا یې تود هرکلی ... په تصویب
وکړ هغه تصویبونه چه پخوا نیو جرگو



ACKU